# صوبائی اسمبلی خیبر پختونخوا

اسمبلی کا اجلاس، اسمبلی چیمبر پشاور میں بروز جمعرات مورخہ 23 اپریل 2015ء بمطابق 03 رجب 1436 ہجری بعداز دوپہر تین بجکر پینتالیس منٹ پر منعقد ہوا۔

جناب سپیکر، اسد قیصر مسند صدارت پر متمکن ہوئے۔

---

## تلاوت کلام پاک اور اسکا ترجمہ

اَعُوذُ بِاللّٰہِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیمِ۔ بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیمِ۔

لَقَدۡ جَآءَکُمۡ رَسُولٌ مِّنۡ أَنفُسِکُمۡ عَزِیزٌ عَلَیۡهِ مَا عَنِتُّمۡ حَرِیصٌ عَلَیۡکُم بِالۡمُؤۡمِنِینَ رَءُوفٌ رَّحِیمٌO فَإِن تَوَلَّوۡاْ فَقُلۡ حَسۡبِیَ اللّٰہُ لَآ إِلَـٰهَ إِلَّا هُوَ عَلَیۡهِ تَوَکَّلۡتُ وَهُوَ رَبُّ الۡعَرۡشِ الۡعَظِیمِ۔

(ترجمہ): (لوگو) تمہارے پاس تم ہی میں سے ایک پیغمبر آئے ہیں۔ تمہاری تکلیف ان کو گراں معلوم ہوتی ہے اور تمہاری بھلائی کے خواہش مند ہیں اور مومنوں پر نہایت شفقت کرنے والے (اور) مہربان ہیں۔ پھر اگر یہ لوگ پھر جائیں (اور نہ مانیں) تو کہہ دو کہ خدا مجھے کفایت کرتا ہے اس کے سوا کوئی معبود نہیں اسی پر میرا بھروسہ ہے اور وہی عرش عظیم کا مالک ہے۔ وآخِرُالدَعۡوَانا أَنِ الۡحَمۡدُ لِلّٰہِ رَبِّ الۡعٰلَمِینَ۔

جناب سپیکر: 'کوئسچنز آور' -----

جناب محمود جان: جناب سپیکر! پوائنٹ آف آرڈر۔

جناب سپیکر: ایک، ایک منٹ جی، اس کے بعد کیونکہ میں نے آپ کو کہا تھا کہ یہ ایجنڈا پورا کر کے آپ کو ان شاءاللہ موقع دیں گے۔ جی، زرین گل صاحب۔

## دعائے مغفرت

جناب زرین گل: جناب سپیکر صاحب! زمونږ د یو ملګری والده صاحبه وفات شوې ده، د هغې په حق کښې مفتي صاحب ته اووايئ چې دعا اوکړی۔

جناب سپیکر: مفتي صاحب! مفتي جانان صاحب! دعا اوکړئ، د سردار ادریس صاحب والده وفات شوې ده، د هغوی په حق کښې دعا اوکړئ۔

(اس مرحلہ پر دعائے مغفرت کی گئی)

جناب سپیکر: کوئسچن نمبر 2424، عظمیٰ خان۔

محترمہ عظمیٰ خان: شکریہ مسٹر سپیکر۔ سر، میں منسٹر صاحب کی غیر موجودگی میں کوئسچن نہیں کرنا چاہتی، پینڈنگ، سر۔

جناب سپیکر: ٹھیک ہے۔

## اراکین کی رخصت

جناب سپیکر: یہ چھٹی کی درخواستیں ہیں: محترمہ نادیہ شیر خان صاحبہ 2015-04-23؛ جناب شکیل احمد صاحب؛ جناب ملک بہرام صاحب؛ جناب شہرام خان؛ جناب زاہد درانی؛ ڈاکٹر مہر تاج روغانی؛ جناب عنایت اللہ صاحب؛ جناب احتشام اکبر صاحب؛ محترمہ دینا ناز صاحبہ؛ محترمہ فوزیہ؛ جناب ابرار حسین صاحب؛ جناب صالح محمد صاحب؛ جناب میاں ضیاءالرحمان صاحب؛ جناب سردار ظہور صاحب؛ آج کی تاریخ کیلئے ان کی چھٹی کی درخواستیں ہیں، منظور ہیں جی؟

(تحریک منظور کی گئی)

جناب محمود جان: جناب سپیکر صاحب! پوائنٹ آف آرڈر سر۔

جناب سپیکر: ایک منٹ آپ کو، تا ته ما وئیلی وو، زه موقع د رکوم د رته لږ دا دغه چلوؤ کنه۔ آئٹم نمبر 6، جناب سکندر حیات شیرپاؤ صاحب۔ سکندر خان! اور لوگ بھی بیٹھے ہیں، وہ ایک ریزولیوشن ڈرافٹ کر رہے ہیں، اگر میں تھوڑا اس کو لیٹ کروں تاکہ اس کے اوپر Proper ایک ڈسکشن ہو جائے؟

جناب سکندر حیات خان: بالکل سر! میں صرف اس کو موؤ کر لیتا ہوں سر۔۔۔۔۔

جناب سپیکر: جی جی۔

جناب سکندر حیات خان: تو اس پہ بحث بھی کر لیتے ہیں اور پھر ریزولیوشن اکٹھے سب ایک ایک وہ کر لیں گے۔

جناب سپیکر: اوکے جی، بالکل صحیح ہے۔

## پاک چائنا راہداری منصوبہ

Mr. Sikandar Hayat Khan: Thank you Mr. Speaker Sir. Mr. Speaker, in the recent visit of the President of Peoples Republic of China, numerous infrastructure development and energy generation projects were signed. Khyber Pakhtunkhwa, being a backward province and suffering from terrorism, deserves more share. Despite assurance from the Federal Government, the province has been ignored. This step-motherly attitude meted out to the province of Khyber Pakhtunkhwa and FATA has given rise to feelings of outrage among the Pakhtuns and thrust requires a thorough debate in the House to discuss the consequences. I move that the normal agenda may be adjourned and a debate may be held on this important issue.

جناب سپیکر! زه ستاسو ډیر زیات مشکور یمه چې تاسو ما له په دې اهم خبره باندې موقع راکړه۔ چونکه دا خبره د ټولې صوبې خبره ده او دا د دې صوبې ټولو کښې Highest forum دے، د دې صوبې ټولو کښې غټه جرګه ده دا۔ دلته کښې د دې صوبې همیشه نه دا روایات پاتې شوی دی او د دې صوبې د صوبائی اسمبلۍ هم دا روایت پاتې شوے دے چې کله هم د صوبې د مفاداتو خبره راغلې ده، کله د صوبائی حقوقو خبره راغلې ده نو مونږه همیشه یو ځائې

آواز اوچت کړے دے او د هغې د پاره ټولو مشترکه یو جدوجهد کړے دے۔ جناب سپیکر! څنګه چې تاسو ته پته ده چې د کافی ورځو نه دا یو بحث روان دے چې Pak China Economic Corridor چې دے دا به راځی او ډیرو خلقو دې ته، چا ورته 'ګیم چینجر' نوم ورکړو، چا ورته وئیل چې دا به یو نوے دور د پاکستان او د چائنا د دوستئ په مینځ کښې یو نوے دور به د دې سره سټارټ کیږی او چا ورته وئیل چې دا د Geo-strategic Politics نه به مونږ Geo-economic Politics طرف ته به لاړ شو۔ جناب سپیکر! چې کله دا خبرې کیدې نو زمونږه هم طمع اوچتیده چې څه چې دا پراجیکټ راشی نو زمونږه دا صوبه چې کوم د ډیرې مودې نه، اول د افغان جنګ د وجې نه ډیر زیات ئے Suffer کړو، بیا د هغې نه پس د دهشتګردئ خلاف چې دا کوم جنګ دے، په دیکښې ډیر بې تحاشه زمونږه وینه تویئ شوه، ډیرې قربانئ مونږه ورکړې، انفراسټرکچر زمونږه تباه شو، د هغې د وجې نه زمونږه دا طمع وه چې یره څه دا یو، یو هغه څه ته چې وائی چې Light at the end of the tunnel هغه ښکاره کیدو چې څه کیدے شی زمونږه د صوبې د خلقو هم دا سخته چې ده، دا به کمه شی او کیدے شی چې څه ازاله اوشی خو د افسوس خبره دا ده جناب سپیکر! چې خبره په دې اسمبلئ کښې هم څو څو ځله اوچته شوه، قراردادونه هم پرې پاس شو، جناب سپیکر! دلته نه متفقه قراردادونه پاس شو، بیا د وفاقی حکومت د طرفه تسلئ هم راکړے شوې، دا هم اووئیلې شو چې یره دیکښې به د هیچا سره زیاتے نه کیږی۔ د چین د صدر صاحب چې کله دوره راغله او کله چې په Agreements باندې دستخط کیدل شروع شول نو داسې لګیده جناب سپیکر! چې دا د پاکستان او د چین په مینځ کښې نه بلکه د یو صوبې د پنجاب او د چین په مینځ کښې معاهدې کیږی لګیا دی او دا تاثر نه وو چې یره دا یو وفاق دے یا دیکښې دې وفاق کښې نورې صوبې هم شته او که نشته؟ جناب سپیکر، که مونږ آئین پاکستان اوچت کړو نو آرټیکل ون وائی چې یره دا یو فیډریشن به وی او هغې کښې کوم Territories ئے چې وئیلی دی نو هغې کښې زمونږه دا څلور واړه صوبې، "Balochistan, Khyber Pakhtunkhwa, Punjab, Sindh, Islamabad Capital Territory, FATA او بیا Such States and territories as are or may be included in Pakistan"، دا د هغې هغه حصه په پارټ (ب) کښې لیکلی دی۔ جناب سپیکر!

چې کله دا معاهدې دستخط کيدې نو داسې ښکاره کيده چې نور Federating Units هډو Exist کوی نه، د دې فيډريشن هم دغه يو يونټ دے او بس د هغې د پاره ټوله توجه ده او هغلته د پاره هر څه کيږی لګيا دی۔ عجيبه خبره دا ده جناب سپيکر! چې دې ته به ګورو چې چين ولې دا دومره لوئې پيکج يا دومره لويه منصوبه راؤړله؟ د چين يو ډيره لويه حصه چې کوم ته سينکيانګ وائی، د هغې خپل Backwardness وو، په چائنا کښې دننه د هغې د پاره ټريډ کښې ډير مشکلات په دې وو چې هغه د Sea نه په ډيره لويه فاصله وو او د چائنا په مينځ کښې چې هغه فاصله کوم دغه کيده، هغه په زرګاؤ ميلو باندې جوړيده۔ هغوی دا غوښتل چې يو شارټ روټ، Strait of Hormuz ته چې کوم د مډل ايسټ د پاره او د افريقه د پاره يو Straight دغه به ورته ملاؤ شی، يو لنډه لاره ورته ملاؤ شی چې د هغوی ټريډ کښې به هم اضافه اوشی او هغلته کښې ډيويلپمنټ هم نور اوشی۔ ورسره ورسره چې کوم سټيج کښې اوس چائنا ولاړ دے نو هغې کښې د Economic growth د پاره هغوی ته اوس نور يو بل Step اخستل دی او د هغې د پاره هغې ته داسې ايريا ز او داسې Geographic locations ته هغه خپل انډسټريز او دغه منتقل کول وو چې هغوی هغه Competitive advantage چې دے هغه هم هغه شان برقرار پاتې شی۔ دا زمونږه خوش قسمتی وه، زمونږ د علاقې هغه خپل Geo-strategic importance وو چې د چين د پاره بل څه لاره نه وه او دا زمونږه دا روټ ئے خوښ کړو او په هغې کښې ټولو کښې بيسټ روټ چې راتلو نو هغه خوش قسمتئ نه زمونږه د صوبې د پښتنو په علاقو باندې تيريدو، په بلوچستان کښې هم د پښتنو په علاقو باندې تيريدو، چين د دې د پاره په دې مقصد سره چې هغه خپل Backward area هم ډيويلپ کړی او ورسره زمونږه Backward areas به هم ډيويلپ شی خو چې کله خبره زمونږه وفاقی حکومت ته راغله نو بيا هغلته کښې د دې Basic کوم چې د دې پراجيکټ Concept وو، هغه يو طرف ته کړے شو او په هغې کښې بيا د يو صوبې مفادات طرف ته اوکتلې شو او د هغې د پاره ټوله توجه ورکړې شوه۔ جناب سپيکر، دوئ وائی چې دا 45 بلين ډالرز منصوبې، بعضې ځائې کښې 46 بلين ډالرز Quote کيږی، بعضې کښې 45، 45 بلين به مونږه واخلو، په دې 45 بلين ډالرز کښې

که مونږه اوګورو نو دا یو لحاظ سره د پاکستان د پاره ټولو کښې لوئې پیکج دے ، هسټری کښې دومره لوئې چرته پیکج یا انوسټمنټ چې دے هغه د پاکستان په هسټری کښې نه دے راغلے۔ مونږه ستاسو په وساطت د فیډرل ګورنمنټ نه دا تپوس کوؤ چې هغه کومه Criteria وه چې په هغې باندې تاسو دا پیکج یا دا سکیمز چې دی، دا تقسیم کړل؟ آیا په هغې کښې پاپولیشن تاسو کتلې دے ، د پاپولیشن په بنیاد باندې مو تقسیم کړے دے ، آیا تاسو د Backwardness یا د پسماندګئ په بنیاد باندې دا تقسیم کړے دے ، که نه چې کومه خبره نن سبا کیږی چې د Terrorism او د Militancy نه Affected area چې ده، د هغې باره کښې تاسو تقسیم کړے دے ؟ که دا دریواړه فکټرز مونږه اوګورو نو جناب سپیکر! په دریواړو فیکټرز باندې زمونږه صوبه او بلوچستان پرې پوره راځی خو چې عمل کښې ئې ګورو نو مونږ ته نه ښکاری جناب سپیکر۔ جناب سپیکر، که کانسټی ټیوشن اوچت کړو او آرټیکل 3 اووایو "The State shall ensure the elimination of all forms of exploitation and the gradual fulfillment of the fundamental principle, from each according to his ability to each according to his work"، اوس جناب سپیکر! یو ځائې کښې آئین مونږ ته وائی چې Elimination of exploitation خو چې بل خوا ته ګورو نو سټیټ پخپله د هغه Exploitation حصه جوړیږی لګیا دے ، جناب سپیکر! چې سټیټ د Exploitation حصه جوړه شی نو بیا به مونږه چا ته ګورو او بیا به مونږه چا سره خبره کوؤ او چا ته به څه وایو جناب سپیکر۔ دغه شان جناب سپیکر! آرټیکل 37 (a) که مونږه اوګورو جناب سپیکر! "The state shall promote, with special care, the educational and economic interests of backward classes or areas"۔ اوس جناب سپیکر! که دې منصوبې ته اوګورو نو مونږ ته خو دا نه ښکاری چې د Backward areas دغه پروموټ شوی دی یا د دغې د پاره څه دغه شوے دے۔ بیا دغه شان جناب سپیکر! دا (f) 37 که مونږه اوګورو، "The State shall enable the people of different areas, through education, training, agricultural and industrial development and other methods, to participate fully in all forms of national activities, including employment in the service of Pakistan"۔ بیا جناب سپیکر، دا دغه دے چې بهئی ټولو له به یو شان تاسو موقعې ورکوئ او کوشش به دا کوئ

چې هغه ډیویلپ شي۔ Article 38 (a) به اوګورو جناب سپیکر، "The State shall secure the well-being of the people irrespective of sex, caste, creed or race, by raising their standard of living, by preventing the concentration of wealth and means of production and distribution in the hands of a few to the detriment of general interest and by ensuring equitable adjustment or rights between employers and employees, and landlords and tenants" ۔ جناب سپیکر، بیا دلته کښې خبره کیږی چې یره د ټولو د انټرسټ به سټیټ خیال ساتی، نو جناب سپیکر! که مونږه اوګورو نو په این ایف سی کښې مونږ سره زیاتے کیږی، نټ هائیډل پرافټ چې کوم زمونږ خپل یو پیداوار دے او پکار ده چې هغې کښې هډو څه خبره نه وے، هغې کښې مونږ سره زیاتے کیږی، وفاقی حکومت چې کوم هغه خپل بجټ جوړوی او خاص ډیویلپمنټ بجټ جوړوی، پی ایس ډی پی چې څه ته وائی، په هغې کښې مونږ سره زیاتے کیږی، مونږ ته خپله حصه نه ملاویږی۔ جناب سپیکر، دا د بهر نه چې کوم مدد ورته اووایه یا Concessional loans ورته اووایه، په هغې کښې هم د دوئ دا پیرزو نه کیده چې زمونږه دې صوبې طرف ته ئے توجه ورکړې وے۔ یو طرف ته چې مونږه راپاڅو نو که وزیر اعظم صاحب دے او که صدر صاحب دے، هغوی چې خبرې کوی، چې بهر دنیا سره خبرې کوی نو وائی چې یره په خیبر پختونخوا او فاټا کښې د دهشت ګردئ د وجې نه دومره تباهی اوشوه، د هغه ځائې څوک شپیته اربه ډالر یادوی، څوک سل اربه ډالر یادوی چې د هغې نقصانات اوشو۔ دا شپیته زره خلق چې دے شهیدان شو، زمونږه کیس او دغه Plead کوی خو جناب سپیکر! چې کله بیا پیسې راشی نو بیا په هغې کښې ورته دا یاد نه وی چې یره د چا په نوم باندې مونږه دا Case plead کړے وو، د چا په نوم باندې مونږه دا پیسې اخستې وې جناب سپیکر۔ د دې نه مخکښې جناب سپیکر، د یونائیټډ سټیټ نه هم پیسې راغلې دی، ستاسو په وساطت په دې فلور باندې مونږه د وفاقی حکومت نه دا تپوس کوؤ چې مونږه نن د هغې حساب هم غواړو چې هغه اووه اته ملین ډالرز چې راغلی وو چې هغه کوم ځائې کښې خرچ شو؟ ځکه مونږ ته خو دلته کښې ښکاره نشو چې زمونږه صوبه کښې لګیدلې دی یا په فاټا کښې لګیدلې دی؟ آیا دا به د دې د پاره وی، صرف زمونږه دا صوبه به د دې د پاره وی چې هغه د د یو څو خلقو د مفاداتو د پاره چې

دے استعمالیږی، هلته کښې د اور هم لګی، هلته کښې د دهشت ګردی هم وی، هلته کښې د وینې هم توئیږی، د هغه وینې هم زمونږه چې دے هغه هومره قدر نشته جناب سپیکر! چې خبره راشی نو زمونږه دلته کښې د وینې قدر چې دے هغه د پینځو لکهو روپو ته راځی او چې هلته کښې پنجاب کښې او سندھ کښې بیا ګورو نو هغه بیا لس لکهو او پینځلس لکهو ته رسی جناب سپیکر، د هغه وینې قدر هم زمونږ هغه شان نه کوی جناب سپیکر۔ بیا د دې سره سره جناب سپیکر، دې طرف ته هم تاسو سوچ اوکړئ چې دا دی Concessional loansڅه پکښې، اوس کله د لون خبره شی جناب سپیکر! نو د لون ګارنټی به ورکوی فیډریشن، چې فیډریشن د لون ګارنټی ورکوی نو مطلب مقروض مونږه ټول شو، د هغې انټرسټ به مونږ ټول Pay کوؤ خو جناب سپیکر! بیا چې ګورو نو لګی صرف په یو صوبه کښې، آیا بیا مونږه دا حق لرو چې مونږه د دې دا هم تپوس اوکړو چې یره نن نه څومره لون چې اخستلے شوے دے، مونږ ته اوښایئ چې هغه کوم ځائې کښې لګیدلے دے او چې کومې صوبې کښې زیات لګیدلے دے؟ بیا دا پکار دی چې هغوی د هم، د هغې پیسې د زیاتې هغوی واپس کوی او زمونږه په شان پسمانده صوبو باندې او زمونږه په شان پسمانده خلقو نه چې دے بیا دا طمع د نه کیږی چې مونږه به د هغوی، قرضې به هغوی اخلی، ترقی به هم هلته کښې کیږی، کارخانې به هلته کښې لګی، نوکرئ به د هغه ځائې خلقو ته ملاویږی او د قرضو ختمولو د پاره چې دے د هغې به بیا دا غریبانان به موجود وی چې یره د خیبر پختونخوا او د فاټا دا خلق او د بلوچستان دا خلق چې دے دا مخکښې شی او دوئ د دا قرضې ورکړی۔ جناب سپیکر، مونږه دا حق لرو چې بیا د دې تپوس اوکړو۔ جناب سپیکر، د دې سره سره عجیبه خبره دا ده چې ټوټل اوس چې مونږه ګورو نو زمونږه شیئر تقریباً 2.5 بلین بیا وروستو دوئ راوستے دے، که هغه این ایف سی والا فارمولا هم واخلو جناب سپیکر! نو زمونږه پکښې تقریباً 14% شیئر جوړیږی چې په هغې باندې هم دغه کوؤ نو دا سات آٹھ بلین ته زمونږه شیئر رسی په 45 بلین کښې، هغه تقسیم هم راسره نه کوی چې کوم دوئ پخپله په این ایف سی کښې لاګو کوی او د خپلې صوبې د پاره چې دے هغه دغه کوی، هغه هم راسره نه دغه کوی جناب سپیکر۔ ورسره ورسره جناب سپیکر، یو زه ستاسو په

وساطت صوبائی حکومت نه هم پکښې تپوس کوم او دوئ نه به پکښې رهنمائی به هم غواړم او په هغې حوالې سره یو آئینی سوال هم کوم چې که آرټیکل 156 مونږه اوګورو جناب سپیکر! آرټیکل (1) 156 چې دے جناب سپیکر! دا وائی، دا د نیشنل اکنامک کونسل باره کښې دے جناب سپیکر! آرټیکل (1) 156 وائی:

"The President shall constitute a National Economic Council which shall consist of: - (a) the Prime Minister, who shall be the Chairman of the council; (b) the Chief Ministers and one member from each Province to be nominated by the Chief Minister"

یعنی څلور واړه چیف منسټران او یو یو نمائنده د هغوی، او بیا (c) کښې دے، "Four other members as the Prime Minister may nominate from time to time"، یعنی څلور نمائندګان د وفاق، خو د دې پارټ ټو اصلی دغه دے جناب سپیکر! (2) 156 ته چې مونږه راشو چې هغې کښې دوئ وائی چې د نیشنل اکنامک کونسل څه کار به وی، نو که دا تاسو اوګورئ، دا وائی:

"The National Economic Council shall review the overall economic condition of the country and shall, for advising the Federal Government and the Provincial Governments, formulate plans in respect of financial, commercial, social and economic policies; and in formulating such plans, it shall, amongst other factors, ensure balanced development"

جناب سپیکر! په دې، دا په دې الفاظ باندې، دې باندې زور دے Balanced development and regional equity and shall also be guided by the Principles of Policy set-out in chapter 2، جناب سپیکر! زه ستاسو په وساطت د صوبائی حکومت نه هم دا تپوس کوم چې آیا په نیشنل اکنامک کونسل کښې دا China Pakistan Economic Corridor تاسو سره ډسکس شوے دے او که ډسکس شوے نه دے؟ که ډسکس شوے دے بیا د حکومت جواب راکړی چې ولې بیا دوئ هلته کښې دا خبره رااوچته نکړه او که نه دے ډسکس شوے جناب سپیکر! نو پکار خو دا وه چې دومره لویه منصوبه، دومره لوئې دغه کیدل چې دا په دغه فورم کښې ډسکس شوے وے چې هغې کښې ټول نمائندګان، د هرې صوبې نمائنده موجود وے نو بیا به کم ازکم دا زیاتے نه کیدو۔ اوس هم زما به دا خواست وی چې صوبائی حکومت ته هم پکار دی چې هغوی د دا خبره په نیشنل اکنامک کونسل کښې هم اوچته کړی او ورسره ورسره

کونسل آف کامن انټرسټ کښې هم چې دے د هغې د میټنګ Call کړی او په هغې کښې دا خپل احتجاج چې دے ، زمونږه دا صوبه چې کومې طریقې سره وروستو پاتې کړے شوې ده، زمونږه صوبه چې دا Ignore کړے شوې ده، دا د پکښې ضرور اوچت کړی جناب سپیکر۔ جناب سپیکر، که اوګورو نو نن دنیا یو ګلوبل ویلج دے ، دا د هغه ستر دهائی نه ده یا هغه دغه نه دی چې په هغې کښې به یو ځائې به په بل ځائې باندې خپل دغه حاوی کول، خواهشات به حاوی کول، نن دور بدل شوے دے جناب سپیکر۔ جناب سپیکر، دا کوم حالات چې وینو، دا څه چې په مونږه تیر شو، د کومو حالاتو نه چې مونږه روزانه په بنیاد باندې تیریږو لګیا یو نو هغه خو څه مونږه یو دغه وو چې څه څه نه څه وخت به تیر شی، ښه وخت به هم راشی خو جناب سپیکر! دا اوس چې کوم صورتحال ګورو لګیا یو نو دا خو داسې ښکاری چې هغه استحصال او حقوق او هر څه هغه په یو ځائې باندې، اوس زمونږ د معاشی استحصال په ځائې اوس Economic blockade زمونږه شروع شوے دے جناب سپیکر! ځکه مونږه Economically چې دے هغه بالکل په یو کونه کښې مونږه دغه کوی لګیا دی، مونږه دیوال سره لګوی لګیا دی چې یره تاسو چې دے ، ستاسو څه حق دې دغه کښې نه جوړیږی۔ جناب سپیکر! مونږه ستاسو په وساطت د وفاقی حکومت نه دا تپوس کوؤ چې د دې د مونږ ته وضاحت اوکړی چې آیا دا خیبر پختونخوا چې ده، دا د دې فیډریشن حصه ده او که نه ده، د دې د مونږ له جواب راکړی۔ مونږ له د د دې جواب هم راکړی چې مونږ له که دا آئین چې دے ، مونږه دې ته تاسو مجبوروئ چې دا آئین چې مونږ له زمونږ د حقوقو تحفظ نشی راکولے نو بیا به مونږ څه کوؤ چې مونږه که، تاسو خو وایئ چې یره دا آئین به منئ، تاسو به د دې آئین په مطابق دغه کوئ خو چې زمونږه د حقوقو خبره راځی نو بیا د هغې د پاره په دې آئین باندې څوک عمل نه کوی، د دې په شقونو باندې څوک عمل نه کوی خو چې کله د هغوی مطلب وی نو بیا آئین پاکستان چې دے دا ټولو کښې اهم دے او چې کله زمونږه د حقوقو خبره راځی نو بیا په هغې کښې دا آئین پاکستان چې دے ، د هغې د شقونو هغه توجه نشته، نو مونږه دې ته مجبوروئ چې مونږه د بیا دا دغه کړو چې دا آئین زمونږه د حقوقو تحفظ نشی کولے ، بیا مونږه دې ته مجبوروی چې بیا مونږه روډونو ته

رااوځو، مونږه دې سرکونو ته رااوځو، مونږ د هم چې دے بیا هغه لحاظ سره تپوس د خپل حقوقو پخپله کول شروع کړو، جناب سپیکر! مونږه خو دې ته مجبوره کیږو لګیا یو۔ (تالیاں) جناب سپیکر، دا هم وئیل غواړم چې په فیډریشن کښې دا قسمه ټینشن چې وی، د هغې نتائج ګورې ښه نه وی۔ جناب سپیکر، مونږه بعضې صورتحال او بعضې څیزونو نه تیر شوی هم یو، اسلام آباد کښې ناست خلقو ته زه د بنګله دیش مثال مخامخ کوم چې د هغې نه سبق ایزده کړئ، د بلکنائزیشن او یوګوسلاویه چې ده، د هغې نه سبق ایزده کړئ ځکه چې کومه پورې به، کومه پورې به زمونږه د صبر امتحان به اخستلے کیږی جناب سپیکر۔ جناب سپیکر، که اوګورو نو بعضې خلق وائی چې یره دا د پاکستان یو خپل Geo-strategic Importance دے خو که دغه Geo-strategic Importance شته نو هغه زمونږه او د فاټا د وجې نه زیات دے۔ مونږه دې ته د څوک نه مجبوروی چې مونږه سبا راپاڅو او مونږه اووایو چې یره دې سنټرل ایشیاء ته او افغانستان ته هم که بیا څوک لاره غواړی نو بیا به مخکښې مونږ سره خبرې کوی، د هغې نه پس به بیا ګورو مونږه چې بیا چا له لاره ورکوؤ او چا له لار نه ورکوؤ، (تالیاں) مونږه دې ته د نه مجبورئ څوک۔ جناب سپیکر، زه پکښې دا هم دغه کوم چې څه کوتاهئ لږې ډیرې، ګو هغې طرف باندې زه ډیر نه تلل غواړم خو هغه ز مونږه د صوبائی حکومت On part هم شته، پکار دا وه چې دوئ دا شے Vigorously follow کړے وے، دا ایشو ئے بار بار اوچته کړے وے، دوئ په مختلف فورمز، په دیکښې کانسټیوشنل فورم چې دے په هغې باندې دا ایشو اوچته کړے وے، په هغې کښې مونږ نه کمے شوے دے، دغه شوے دے خو جناب سپیکر! دا وئیل غواړو چې دا صوبه زمونږه صوبه ده، د دې خلق زمونږه خلق دی، د دې د حقوقو تحفظ چې دے هغه په ټولو باندې فرض دے، د دې صوبې سره زمونږه ترقی هم تړلې ده، د دې صوبې سره زمونږه هر څه تړلی دی، د دې صوبې د حقوقو تحفظ د پاره، د دې صوبې د ترقئ او تحفظ د پاره، د دې صوبې د مستقبل د تحفظ د پاره، د دې صوبې د راروان نسلونو د مستقبل د تحفظ د پاره جناب سپیکر! مونږه حکومت ته وایو چې تاسو راپاڅئ، مونږه درسره ټول یو، تاسو آواز اوچت کړئ، مونږه درسره آواز اوچتوؤ، که تاسو آواز

نه اوچتوئ نو بيا درته دا وايو چې بيا به اپوزيشن رااوځى، بيا به مونږه ټول رااوځو (تالیاں) سړکونو به بندوؤ، بيا به ستاسو نه به پکښې هم تپوس کوؤ او د وفاقى حکومت نه به هم تپوس کوؤ چې بهئى داسې قسمه منصوبې او داسې قسمه زمونږه د صوبې چې استحصال کيږى، نور دغه نشو برداشت کولې۔ جناب سپيکر! دا ستاسو په وساطت، د دې فورم په وساطت يو ځل بيا وفاقى حکومت ته وايم، وفاق ته وايم، اسټيبلشمنټ ته وايم چې بس دے، او اوسه پورې چې مو څه کړى دى، هغه په خپل ځائې، نور چې دے نور په دې پښتنو با ندې رحم اوکړئ، نور پښتانه د دې متحمل نه دى چې ستاسو د دې لوبو حصه جوړه شى۔ که اوس څوک زمونږه مفاداتو باندې مونږ سره خبره کوى، زمونږه د خاورې په مفاداتو مونږ سره خبره کوى، زمونږه د قوم په مفاداتو مونږ سره خبره کوى نو مونږه به ورسره خبرې کوؤ، که نه وى نو که دغې نه د هغې نه بيا مونږه نور د چا د لوبو حصه نشو جوړيدے، د چا د پاره استعماليدے نور نشو جناب سپيکر! نور چې دے نور به د خپل حقوقو د پاره پخپله به راپاڅو به او پخپله به دا حقوق ګټو جناب سپيکر۔

<u>جناب سپیکر</u>: شکریہ جی، شکریہ جی۔ میں ایک وضاحت کروں، پھر میں آپ کو موقع دیتا ہوں۔ایک تو یہ ہے کہ آج ہماری ایک Detailed meeting ہوئی ہے جس میں تقریباً تمام پارلیمانی لیڈرز موجود تھے اور ان کے نمائندے بھی موجود تھے اور اس میں ہم نے کچھ Understanding بنا لی ہے اور وہ ریزولیوشن تیار ہورہی ہے، وہ ریزولیوشن بھی آجائے گی،اس میں ہم نے ایک پارلیمانی جرگہ بنایا ہے جس کو چیف منسٹر ہیڈ کریں گے اور جس میں پارلیمانی لیڈرز اور ہم نے اپوزیشن کی طرف سے دو لوگ اضافی لیے ہیں،ایک میڈم انیسہ زیب اور ایک جعفر شاہ صاحب،اور اس میں حکومت کی طرف سے ہم نے دو لوگ جو جس میں کریں گے ایک عاطف خان اور شاہ فرمان، تو ہم اس کو ایک Regularly base پہ چیک کریں گے اور دوسری بات یہ ہے کہ اگر آپ سکندر خان! اس کو باقاعدہ ڈیبیٹ کیلئے وہ کرنا چاہتے ہیں تو میں ہاؤس کے سامنے لانا چاہتا ہوں تاکہ باقاعدہ اس پہ ایک Proper debate ہو جائے۔۔۔۔۔

<u>جناب سکندر حیات خان</u>: اس پہ ہماری ایک متفقہ آواز جانی بھی چاہیئے جناب سپیکر!

جناب سپیکر: تو میں اس کو ہاؤس کے سامنے رکھتا ہوں۔ اچھا اس میں اس Topic پہ میں ابھی آپ کو مطلب چونکہ ریزولیوشن بھی اس پہ آ رہی ہے تو میں ابھی اس کے اوپر موقع دیتا ہوں۔ حبیب الرحمان صاحب کر لیں گے پھر۔۔۔۔۔

جناب حبیب الرحمان (وزیر زکواۃ): جناب سپیکر!

جناب سپیکر: جی جی، حبیب الرحمان صاحب۔

وزیر زکواۃ: بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ۔ شکریه جناب سپیکر۔ زه تاسو ته خراج تحسین پیش کوم چې تاسو د کوم اجلاس حواله ورکړه، شیرپاؤ خان چې کومه نشاندهی اوکړه، سحر د ټولو پارلیمانی پارټو د لیډرز دغه وه، زه د عنایت الله چونکه غیر حاضر وه، هغه ما ته ټیلیفون کړے وو، هغه اجلاس کښې شریک شوے ووم، نو زه خو تاسو ته خراج تحسین پیش کوم چې دا اوس کرنټ ایشوز دی، کوم هغوی باندې سیر حاصل بحث مخکښې شوے دے، د شیرپاؤ خان شکریه ادا کوم چې هغه د موقعې دا نزاکت اوپیژندو او بیا به ده موشن په داسې موقع باندې راؤړو چې دا کرنټ ایشو ده په ملک کښې، خبرې یعنی سکندر شیرپاؤ خان ډیرې زیاتې خبرې اوکړې او دا د دې فورم او د دې اسمبلئ، د دې august House حق دے چې د فیډرل ګورنمنټ سره زمونږ کوم ایشوز دی، د هغوی سره Related هغه مونږه ډسکس کړو خو مسئله اصلی چې کومه ده، عملی اقدامات به مونږ له څه کول غواړی، دا کوم ایشوز چې مونږ ته مخامخ دی، ده د یو لیډر په حیثیت خپل حق ادا کړو خو مونږ له Practically هغه کوم کار کول پکار دی چې مونږ دا ایشوز، د فیډرل ګورنمنټ سره Related issues چې دی، دا مونږه د هغوی سره Take up کوؤ۔ ما نن سحر هم په دیکښې تجاویز پیش کړی وو، زه اوس هم بیا هغه خپل تجاویز پیش کوم، د فیډرل ګورنمنټ سره زمونږه یو ایشو چې کوم ده د نټ هائیډل پرافټ ده، دویمه خبره د چائنا د پریزیډنټ Recent دوره ده پاکستان ته، دریمه خبره زمونږه چې کوم ده، هغه د آئل اینډ ګیس د رائلټی مسئله ده، څلورمه مسئله زمونږه چې کوم ده، هغه د واپډا سره Related ده۔ دا څلور ما تجاویز سحر پیش کړی وو چې مونږ له څه پکار دی۔ د ټولو نه اول خو مونږ ته Full تیارے پکار دے، دا په ډیبیټ کښې یعنی یو د جلسو تقریرونه وی،

یو د اسمبلئ په هاؤس کښې دننه هغه تجاویز ورکول دی چېPractically هغه Visible ښکاری چې هغه عملی طور مونږ ټهوس اقدام اوکړو، لکه په نن ټ هائیډل پرافټ باندې چې مونږ کله د ایم ایم اے په دور کښې کیس لړاؤو نو مونږه ټول اپوزیشن لیډران زمونږ چې د دې صوبې چې وو، زمونږه سابقه وزراء خزانه چې څومره وو، مونږ ورپسې کورونه ته تلی وو، هغوی مو Invite کړی وو او د هغوی د پاره مونږ Full تیارے کړے وو، زما جی وړومبئ خبره خو دا ده چې کرنټ ایشو زمونږ هم چې کوم ده، هغه د چائنا د پریزیډنټ Recent دوره ده پاکستان ته، یا کوم راهداری Corridor چې دے، په دیکښې Initially چې کوم لائن وو نو هغه څنګه چې د هغه نه شروع شوې وه، د بلوچستان نه او داسې راغلې وه او سیدها په فاټا او په دغه خنجراب ته رسیدلې وه، دا وړومبئ د هغوی چې کومه نقشه ده او بله په مشرقی هغه باندې چې کوم دے نو ملتان او په هغه طرف باندې تلے دے۔ موجوده وخت کښې چې کوم هغوی، یعنی زما ورور چې اووئیل دا موجوده صورتحال داسې دے چې د پنجاب وزیر اعلیٰ چائنا ته لاړ شو او هلته ئے دا دغه کولو چې دا ګنې وزیر اعظم دے او د دې چائنا د پریذیډنټ دا دوره ئې هائی جیک کړې ده، دا ئې صرف پنجاب ته محدود کړې ده۔ زمونږ حق هغه چې کوم دے نو په دې باندې دے چې چونکه دا خو د ګورنمنټ آف پاکستان دوره وه او په دیکښې Initial کوم سټیج او کوم لائنونه هغوی Draw کړی وو، پکار وه چې په هغې باندې من و عن خو زما دا دغه دے چې وړومبئ مونږه یو ایکسپرټس کمیټی جوړه کړو، یعنی مونږه خو ایکسپرټس نه یو، چې هغوی بالکل په دې دغه باندې پوهیږی او هغه یو جامع رپورټ تیار کړی څکه چې په دې لائنونو باندې به هغه انډسټریل سټی جوړیږی، په دې باندې به هسې هم ښارونه جوړیږی، په دیکښې به ډیر لوئې هغه جوړیږی د ډیویلپمنټل، وړومبې په دې باندې دا کار اوکړی چې هغه خپل حق یعنی مونږه Practically دا ثابت کړو د نقشې په بنیاد، د سائنس اینډ ټیکنالوجی په بنیاد، د یو ایکسپرټ په بنیاد هغوی ته یو دغه Draw کړو چې دا زمونږ حق دے، تاسو Initially دا لائن چې کوم دے Draw کړے وو او دا لائن وفاق د طرف ته لاړ شی، د دې د پاره ایکسپرټس کمیټی پکار ده۔ دویمه کمیټی د نن ټ هائیډل پرافټ، نن ټ هائیډل پرافټ زمونږه چې

کوم دے ، مونږه د ایم ایم اے په وخت کښې 110 بلین روپئی ګټلے وو او په هغه فیصله کښې دا لیکلې شوی وو چې هر سال به Economically 10% increase په نټ هائیډل پرافټ کښې کیږی، هغه اوسه پورې Increase نه دے شوے، بهرحال ګزشته حکومت له 110 بلین کښې85 بلین روپئی ورکړے شوې دی، هغه باقی پیسې زمونږ چې کوم دی، هغه 25 بلین هغه Intact دی، هغه هغوی څه دغه نه کوی، دا مونږ له پکار دی چې کوم کار مونږ داسې کړے وو چې مونږ ټول د اپوزیشن لیډران، دا دویمه ایشو ده زمونږه، دریمه ایشو زمونږه د آئل اینډ ګیس د رائلټی خبره ده۔ د دې د پاره هم ایکسپرټس پکار دی او د هغې قانونی جائزه پکار ده چې دا کیس مونږه هم تیار کړو۔ څلورم کیس زمونږ د هغه د واپډې سره چې کوم دلته کښې زمونږه د کور کلی خبرې هم دی او په هغې کښې د پروډکشن او د هغې خبرې دی چې دا مونږ ټول کوؤ، بیا به دغه تیار کړو، جامع څلور واړه سکیمونه مونږ تیار کړو او بیا مونږ نیشنل لیډرز آف کے پی کے، ګوره غټه خبره جی بنیادی دا ده چې نیشنل لیډرز په کے پی کے کښې د ټولو نه زیات دی، دلته کښې فضل الرحمان مولانا صاحب دے، دلته شیرپاؤ خان دے، دلته اسفندیار ولی دے، دلته چې کوم دے نو سراج الحق دے، دا زمونږ نیشنل لیډرز دی چې دا خلق به مونږ په اعتماد کښې واخلو، مونږ پسې ورشو، دا مونږه د ځان سره چې کوم دے نو تیارے اوکړو، جامع تیارے اوکړو، دې څلورو سیکټرو کښې تیارے اوکړو او دا خلق زمونږ مخکښې شی او مونږ ورسره داسې یعنی سحر تاسو کومه مهربانی کړې وه او چیف منسټر صاحب او تاسو هغه دواړو Joint preside کړے وو نو ما هلته هم دا تجویز پیش کړے وو، نو اوس دا خبره د تقریرونو یواځې نه ده، پریکټیکل اقدامات کول غواړی او زمونږ په دې صوبه کښې ښه قابلان لیډران دی چې دا مونږ د ځان سره ملګری کړو، دوئ زمونږ مخکښې شی، مونږ ورسره شو او دا خپل کیس فیډرل ګورنمنټ ته مونږ وړاندې کړو، ان شاء اللّٰہ تعالیٰ به په دیکښې برکت واچوی ګنې دا وخت د دغه خبرو نه دے چې لکه مونږ خبرې کوؤ خو عملی اقدامات د پاره، زما عرض دے چې عملی اقدام مونږ اوکړو، ان شاء اللّٰہ په دیکښې به برکت اللّٰہ تعالیٰ واچوی او دا ټول دغه به چې کوم دے نو مونږه هغه کوؤ۔د دې خلاصه زما دا ده

چې زمونږه درې څلور غټ ایشوز دی Related to Federal Government او د دې د پاره هغه کمیټی خپل Expert opinions، سیکرټری لا ء واخلئ، سیکرټری فنانس واخلئ، ښه لوئې خلق بیوروکریټس پکښې وی او په هغې کښې زمونږه لیډران به هم وی او دا مونږه دغه تیار کړو او دا مونږ فیډرل ګورنمنټ ته وړاندې کړو ان شا ء الله د مسئلې حل دا دے او که په دې پسې مونږ ورپسې شو بیا زمونږ وروڼه، مونږ ټول همیشه د پاره، دا یو جرګه ده، د پښتنو طریقه دا هم ده، غټ صفت دا دے چې دا مونږه په دیکښې اپوزیشن او په دیکښې ټریژری نشته، دا مونږ وروڼه یو، د دې صوبې د حقوقو د پاره په یو پیج یو، په یو دغه باندې یو ان شا ء الله چې دا مونږ اوکړو نو ان شا ء الله دا مسئله به حل شی۔

جناب سپیکر: شکریہ۔ میں مفتی جانان صاحب کو اور اس کے بعد آپ کو موقع دیتا ہوں۔ مفتی جانان صاحب اور اس کے بعد آپ۔

مفتی سید جانان: بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَـٰنِ ٱلرَّحِيمِ۔ جناب سپیکر صاحب، زه ستاسو شکریه ادا کوم د وخت راکولو۔ مونږ طرف ته یو متل مشهور دے چې "اوځه پرنج وهی ذکر ئے مرور وی"، دغې صوبې کښې د مرورو خلقو حکومت دے، دغې صوبې کښې داسې خلق نشته چې هغه دنیا سره وچلیږی، دنیا نه فائده اوچته کړی او دنیا نه څه شے راواخلی۔ جناب سپیکر صاحب، زه ایم پی اے یم، زه به د ایم پی اے په لیول باندې سوچ کوم او تاسو کومې کرسئ باندې ناست یئ، دا ډیره غټه کرسئ ده او د دې ډیر غټ لیول دے، دغې صوبې کښې مونږ د پردو خلق ژاړو، زه شهباز شریف ته داد او تحسین ورکوم چې نواز شریف، شهباز شریف خپلې صوبې ته پیسې راوړی، د خپلې صوبې د آبادئ سوچ کوی، خپلې صوبې کښې ترقیاتی کارونه کوی۔ جناب سپیکر! زمونږ وزیر اعلیٰ صاحب، زمونږ د منسټرانو، زمونږ د صوبائی اسمبلئ زمونږ خو د ټولې دنیا سره کچی ده، مونږ چا سره کښینو نه، مونږ چا نه څه شے غواړو نه، چا ته څه ورکوؤ نه، جناب سپیکر صاحب! نور فنډونه خو پریږدوه، زه به د تیر فنډونو خبره درته اوکړم، جناب سپیکر صاحب! ما ته ایجوکیشن کښې 15 ارب روپئی راغلې، هغه 15 ارب روپئی ته چرته ولګولې، کوم ځائې کښې ته صرف کړلې، تا ته ډیمونو ته پیسې راغلې، هغه پیسې مونږ چرته ولګولې؟------

**ملک قاسم خان خٹک:** جناب سپیکر!

**جناب سپیکر:** *بولنے دیں، بولنے دیں، تہ کبنینہ۔ جی جی، آپ ملک قاسم صاحب! بیٹھ جائیں، بیٹھ جائیں۔*

**مفتی سید جانان:** ملک صاحب زمونږ مشر دے خو هغه خبره به کوؤ چې کومه حقیقت وی، که دغه سوال د حقیقت نه وی، ته پاڅه زما د تقریر چې څومره خلاف کولې شې، تا ته به زما اجازت وی۔ زه هغه خبرې کوم، زه د پنجاب ترجمانی نه کوم، زه دې دغې اسمبلئ ممبر یم، زه به د دغې اسمبلئ حقائق بیانوم۔ جناب سپیکر صاحب، تا ته ډیمونو ته پیسې راغلې، هغه پیسې څه شوې؟ تا ته ایگریکلچر کبنې پیسې راغلې، هغه پیسې تا چرته ولگولې؟ تیر شوی اے ډی پی تا چرته خرچ کړله؟ د سخکال یوه نیمه میاشت تا ته پاتې ده، یوه نیمې میاشت کبنې ستا 27 فیصد اے ډی پی خرچ شوه، هغه خلق پیسې غواړی چې هغه پیسې خرچ کولې شی، هغوی کبنې کمک وی، هغوی کبنې طاقت وی، د هغوی سره منصوبې ورسره وی۔ جناب سپیکر صاحب، *(تالیاں)* زه علی الاعلان دلته دا خبره کوم چې ملگری د په دې نه خفه کیږی که دغه حالت لکه دا کوم روان دے، نن دا بهر اوځه ستا د دغه حکومت خلاف کیږی، ولې کیږی؟ بیوروکریسی ستا خلاف ده، استاذان ستا خلاف رااوځی، ټولې ادارې ستا خلاف دی، ته سوچ اوکړه چې ولې دا خلق زما خلاف رااوځی، ما کبنې څه کمزورئ دی، هغه کمزورئ ځان نه لرې کړه، هغه کمزورئ ځان نه اوباسه، ته به هله حکومتونه چلولے شې۔ جناب سپیکر صاحب! د گیس خبره حبیب الرحمان صاحب اوکړه، ته خو د مرکز ژړا خو ژاړې چې مرکز ما ته خپل حقوق نه راکوی، آیا ته جنوبی اضلاع ته هغه حقوق ورکوې چې تا ته تیر شوی بجټ کبنې 29 ارب روپئ درکړی دی، دا ستا د دغې صوبې دویمه حصه ده د بجټ، آیا تا جنوبی اضلاع ته هغه حقوق ورکړی دی؟ که ته د مرکز نه خپل حق غواړے نو جنا ب سپیکر صاحب! بیا تا ته دا پکار ده چې دغو صوبو ته، دغو ضلعو ته خپل حقوق ورکړې او د دغو اکثرو ممبرانو، د صوابئ حقوق دی جناب سپیکر صاحب! د تمباکوانو تا ته معلوم دی، آیا دغه حکومت ورکړی دی ورته، تا ته د بجلئ حقوق دی د دې تربیلا ډیم نه هغوی تا ته

درکړی دی؟ زه به هله ژاړم، زما ژړا به، هله زما ژړا کښې به قوت وی، زما فریاد کښې به هله قوت وی چې زه کله د خپلو وسائلو منصفانه تقسیم کوم، که ما کښې انصاف نه وی، "كَمَا تَدِينُ تُدَانُ"، لکه څنګه بل چا سره کوې، هم دغه شان به جناب سپیکر! بیا تاسو سره کیږی۔ زه اخر کښې یوه خبره کوم، دا تقریر ختموم، جناب سپیکر صاحب! د دغې صوبې د حقوقو د پاره به اپوزیشن مخکښې وی، حکومت به ورپسې وی ان شاء الله العظیم د دغې صوبې حقوق به په مشترکه طور باندې غواړو خو بیا به مو هم حکومت ته دا ګزارش وی چې بیا ته پخپله په هغې چې کوم دے د وسائلو تقسیم کوې، هغه تقسیم کښې مطلب دے دا بیا انصاف کوه۔ نن ما ته خو د دې صوبې خبره کوې خو دا خو هم د دې ضلعو نمائنګان دلته راغلی دی کنه، دغو پسې هم عام خلق ورپسې دی، لکهونو خلقو ووټونه ورکړی دی، بیا لکه مرکز نه ته کومه ګیله کوې، بیا به ملک قاسم صاحب! ما ته هم دا حق حاصل وی چې زه بیا تا نه ګیله اوکړم، زه بیا د وزیر اعلیٰ صاحب نه ګیله اوکړم، زه بیا د شاه فرمان نه ګیله اوکړم، زه بیا د لاء منسټر نه ګیله اوکړم جناب سپیکر صاحب! دا حق به بیا ما ته حاصل وی، زه جی ستاسو مشکور یم۔

جناب سپیکر: راجہ فیصل زمان۔

راجہ فیصل زمان: بِسْمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحْمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ۔ آنریبل سپیکر صاحب! اس ایوان میں سب سے پہلے تو ہمارے لئے صوبہ ہے سر اور اس کے بعد کوئی پارٹی ہے، (تالیاں) ہمیں اپنے صوبے سے آگے نہ کوئی پارٹی ہے نہ کوئی ادارہ ہے اور جو ہمارے صوبے کے مفاد میں ہو گا، ہم سب مل کر کریں گے اور چاہے مرکز ہے، چاہے صوبہ ہے، صوبے سے بھی ہم اپنا حق مانگتے ہیں اور مرکز سے بھی ہم اپنا جائز حق ضرور مانگیں گے، چاہے ہم جس پارٹی سے بھی تعلق رکھتے ہوں۔ میں اپنی پارٹی کی نمائندگی کرتے ہوئے کہہ رہا ہوں، یہ میں اپنے بھائی کو، سکندر بھائی کو ایشورنس دیتا ہوں کہ کوئی روٹ چینج نہیں ہو گا، اگر چینج ہو گا تو ان کے ساتھ روڈ پہ میں بھی باہر نکلوں گا، اگر روٹ چینج ہو گا، (تالیاں) ہم ان کا ساتھ دیں گے۔ آنریبل سر، اصل میں ہم ایک فوبیا میں پھنسے ہوئے تھے پہلے، اس سے ہم باہر نکل چکے ہیں، دھرنا ختم ہو چکا ہے، ہمیں ایک دوسرے کے ساتھ اچھے Relations رکھنے چاہئیں، اچھے روابط رکھنے چاہئیں اس میں بلکہ

فیڈرل گورنمنٹ کے ساتھ اچھے Relations رکھتے ہوئے اپنے جو ہمارے وسائل ہیں، ان سے لینے چاہئیں۔ جو وسائل پی ایس ڈی پی میں آتے ہیں، جو وسائل ہمارے نیٹ ہائیڈل پرافٹ میں آتے ہیں، قانون کے تحت گیس میں آتے ہیں، بجلی کی رائلٹی میں آتے ہیں اور جو حق ہمیں وہاں سے ملتا ہے، وہ حق ہمیں یہاں سے ہی تقسیم کرنا چاہیئے۔ یہ آپ کا بجٹ سامنے آرہا ہے، آپ کیا انصاف کریں گے، وہ بھی سامنے آجائے گا، لہذا میں آپ سب کو کہوں گا کہ جس طرح آپ ہمارے ساتھ کرتے ہیں، بس اوپر اللہ بیٹھا ہوا ہے، اللہ اوپر سے دوسری طرح کر دیتا ہے۔ (تالیاں) آپ جب انصاف کریں گے تو آپ کے ساتھ بھی اللہ انصاف کرے گا۔ میں سر! باوثوق ذرائع سے آپ کو یہ بتاتا ہوں کہ ہمیں اپنے قومی لیڈروں کی سیاست ادھر نہیں کرنی چاہیئے سر! ہمیں اپنے صوبے کا سوچنا چاہیئے، ہمیں اپنے صوبے کے مفاد کا سوچنا چاہیئے، مجھے یہ نہیں سوچنا چاہیئے، یہ میرا جو لیڈر اوپر بیٹھا ہے، وہ ناراض ہو جائے گا، مجھے یہ سوچنا چاہیئے کہ میرا صوبہ تباہ ہو جائے گا، میرا صوبہ ختم ہو جائے گا، مجھے اپنے صوبے کے بارے میں سوچنا چاہیئے، اس میں ہم سب کو اکٹھا ہو کر چلنا چاہیئے، میں کسی پہ انگلی نہیں اٹھاتا کہ کس میں کیا کمی ہے، کس نے اچھا کیا، کس نے کیا کیا؟ اگر کوئی چائنیز انویسٹمنٹ پاکستان میں آئی ہے، وہ ایک اچھی چیز ہے، Energy crisis کو ختم کرے گی۔ اس کے حوالے سے میرے بھائی نے کہا کہ کوئی کمیٹی بن جائے، وہ آپ وہاں جا کر Thrash out کریں کہ آپ کے صوبے کے مفاد میں اس میں کیا کیا چیزیں ہیں اور آپ نے جو فیڈرل گورنمنٹ سے لینا ہے، ہمیں آپ اپنا بازو سمجھیں، ہم بحیثیت مسلم لیگ نواز آپ کے ساتھ ہیں، آپ کا ساتھ دیں گے ہر اس ایشو پہ جس پہ ہمارا صوبہ Hurt ہو رہا ہو، زخمی ہو رہا ہو، ہم اسے زخمی نہیں ہونے دیں گے، اس کا ساتھ دیں گے، اس کے شانہ بشانہ کھڑے رہیں گے۔ ہم کبھی وہ تنقید نہیں کریں گے، جو کمزوریاں ہیں، وہ آپ خود سمجھتے ہیں، ہمیں آپ کو بتانے کی ضرورت نہیں ہے، آپ نے ان کمزوریوں پہ خود قابو ڈالنا ہے اور کس طرح قریب جانا ہے۔ یہ تو کوئی مسئلہ ہی نہیں ہے، آپ چاہیں، آپ وزیر اعلیٰ ہیں ہمارے، ہمارے آنریبل چیف منسٹر جب بھی چاہیں تو وہ وزیر اعظم سے مل سکتا ہے، کوئی ایسی بات نہیں ہے، اچھے Relations رکھ سکتے ہیں سر! ہمیں اپنے فیڈرل لیول کی سیاست کو سائڈ پہ رکھنا ہوگا، ہمیں اپنے صوبے کے مفاد میں سوچنا ہوگا، اس کی بہتری کیلئے سوچنا ہوگا، ہم ان شاءاللہ آپ کے شانہ بشانہ چلیں گے اور ان شاءاللہ جہاں بھی آپ ہمیں آواز لگائیں گے،

ہم آپ کے ساتھ کھڑے ہوں گے۔ میں سکندر بھائی کی سب باتوں کو Endorse بھی کرتا ہوں اور میں شکریہ ادا کرتا ہوں مولانا صاحب کا جنہوں نے ہماری پارٹی کے بارے میں اچھے الفاظ کہے۔ شکریہ۔

جناب سپیکر: احمد بہادر صاحب۔

جناب احمد خان بہادر: نَحمَدُہٗ وَ نُصَلِّی عَلٰی رَسُولِه الكَرِيم اَمّا بَعد۔ فَاَعُوذُ بِٱللَّهِ مِنَ ٱلشَّيۡطَـٰنِ ٱلرَّجِيمِ۔ بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَـٰنِ ٱلرَّحِيمِ۔ تھینک یو مسٹر سپیکر۔ جناب والا، ډیره اهم ایشو ده او ډیره ضروری خبره ده، زه شکریه ادا کوم د شیرپاؤ خان۔ مونږه هم اے این پی د وخت د سر نه دا خبره Highlight کړې ده، جناب والا! مونږ هم په هر فورم باندې دا خبره کوله او کړې ده۔ جناب والا، مونږ آل پارټیز کانفرنس هم راغوښتے وو په اسلام آباد کښې، هغې کښې د مختلف پارټو ملګرو شرکت کړے وو بشمول ستاسو د پارټئ، او هغه وخت هم مونږه دا عهد کړے وو، د دې ټولو پارټو یو مشترکه قرارداد هم هغه وخت جناب والا! دا راغلے وو چې په هیڅ صورت باندې دا چې کوم روټ دے، په دیکښې مونږه تبدیلی نه منو۔ زه د جماعت اسلامی د حبیب الرحمان صاحب هم شکریه ادا کوم، مفتی صاحب هم ډیره ټهیک خبره اوکړه او راجه صاحب خو بیا داسې خبره اوکړه چې خدائې مه کړه که چرې دا روټ د دې زوړ نه بدلیږی بل طرف ته ځی نو دوئ به مونږ سره کښینی۔ جناب والا! د ټولو نه زیات Appreciate کوم زه د راجه خبره، حقیقت دا دے چې نن ضرورت د دې خبرې دے چې مونږ ټول هاؤس، مونږ ټول پښتانه رایو ځائې شو او په دې یوه خبره باندې متفق شو چې مونږ به صرف د دې خپلې صوبې د حقوقو دفاع کوؤ، هر قسم حالت چې وی، د پارټئ نه بالا تر مونږ د هرې پارټئ سره تعلق ساتو، مونږ د دې پښتنو نمائندګان یو، دا د پښتنو د ټولو نه لویه جرګه ده جناب والا! مونږ له خلقو ووټ راکړے دے، مونږ له خلقو مینډیټ راکړے دے، مونږ خلقو دې ځائې ته رالیږلی یو صرف د یو مقصد د پاره او هغه مقصد دا دے چې مونږ به د دې خلقو د حقوقو د پاره آواز اوچتوؤ او مونږ به د دې خلقو د حق د پاره جنګیږو جناب والا۔ (تالیاں) جناب والا، که تاسو دې ته لږ سوچ اوکړئ چې کوم زوړ روټ وو، تقریباً شپږ نیم سوه کلومیټره هغه کم وو چې هغه انتهائی پسمانده علاقو باندې تیریدو، میانوالی، بنوں، ډیره اسماعیل خان

باندې تیریدو او بیا به ګوادر ته تلو۔ جناب والا! اته نهه په دې باندې انډسټریل زونز وو، جناب والا! که چرې دا فیډرل ګورنمنټ زما د دې صوبې سره مخلص وے او دا Route already که چرې دا په پنجاب باندې وے او په هغې علاقو باندې وے کوم چې Already develop دی نو پکار دا وو چې وفاقی حکومت هغه زما دې صوبې ته ئے راوړے وے چې نه دا صوبه پسمانده ده، په دې صوبې باندې جنګ تیر شوے دے، دې صوبې قربانی ورکړې ده، د دې صوبې عوامو قربانی ورکړې ده، د دې صوبې ایم پی اے ګانو قربانی ورکړې ده، د دې صوبې وزیرانو قربانی ورکړې ده، د دې صوبې د ګلونو په شان ماشومانو قربانی ورکړې ده، جناب والا! حق د دې صوبې کیږی خو افسوس دا دے، افسوس دا دے چې مونږ سره د میرنې مور په شان سلوک کیږی، خدائے د کړی چې دا خبره غلطه وی خو ما ته داسې ښکاری چې بنګال سره څه شوی وو، د هغوی سره څه شوی وو، هغه نن زما د دې صوبې سره او د دې پښتون قام سره کیږی۔ جناب والا! زما ګزارش دا دے چې مونږ ټول که حکومتی پارټی یو او که د اپوزیشن ملګری یو، په دې باندې چې مونږه ټول متفق شو، مونږ د دې د پاره هر قسم احتجاج اوکړو، که هغه په اسمبلئ کښې وی، که هغه د اسمبلئ نه بهر وی، مونږ د د یو څو حلقو د پاره په اسلام آباد کښې چې دهرنا کولې شو جناب والا! مونږ د خپلو پښتنو د پاره هم اسلام آباد کښې دهرنا کولې شو جناب والا، (تالیاں) عوامی نیشنل پارټی ان شاء اللّٰه سره د خپلو ممبرانو، سره د خپلو ایم این اے ګانو، سره د خپلو سینیټرانو، سره د خپلو عوامو به هلته تاسو سره اسلام آباد کښې ولاړ یو۔ زما ګزارش دا دے او زما التجاء د وفاقی حکومت نه دا ده د دې خپل هاؤس او د دې صوبې په توسط سره چې مهربانی اوکړئ، مهربانی اوکړئ د پښتنو په حال باندې رحم اوکړئ۔ مونږ ډیر زیات تکلیف کښې وخت تیروؤ، مونږ ډیر زیات تکلیف کښې یو چې څه مصیبت وی، چې څه آفت وی، چې څه وی هغه په مونږ باندې وی او بیا چې کله امداد راځی یا د ترقئ خبره وی نو مونږ مکمل طور باندې نظر انداز کیږو۔ جناب والا! زما ګزارش دا دے چې دا ټول هاؤس د په یوه خبره باندې متفق شی او زما یقین هم دا دے چې د پنجاب حکومت یا وفاقی حکومت به بیا دومره سترګې نه پټوی، هغوی به هم دا منی چې

او واقعی دا پختونخوا د پاکستان حصه ده او که چرې هغوی واقعی دا پختونخوا د پاکستان حصه گنړی نو بیا به ان شاء الله مونږ له زمونږ حق راکوی۔ جناب والا! زه ستاسو د ټولو ډیره زیاته شکریه ادا کوم، زه سیکنډ کوم د سکندر خان ټولې خبرې چې هغوی څه اوکړې، بالکل د دې صوبې په حقوقو او د دې باره کښې مکمل ټهیک خبره ئے اوکړه۔ تهینک یو مسټر سپیکر۔

جناب سپیکر: بیرسٹر سلطان، بیرسٹر سلطان۔

